ژمنتیا،ریښتینولي او ولس ته خدمت
زموږ په کاري لومړیتوبونو کې دي!

وزارت دولت در امور شهدأ و معلولین

هفته نامه ارمان شهدأ و معلولین افغانستان

اته ویشتمه ګڼه، پنج شنبه ، ۸ حوت ۱۳۹۸



## د نوي برېښنايي سیستم د تطبیق طرزالعمل لاسلیک شو...۲



## د ځلورو ولایتونو د بانکي سازی راپور د وزارت مشرتابه ته وړاندې شو ...۳



## معلولیت لرونکو وګړو او د شهیدانو وارثینو ته ...۴

# د شهیدانو او معلولینو په چارو کې د دولت وزارت او اړوندو ادارو تر منځ د نوي برېښنايي سیستم د تطبیق طرزالعمل لاسلیک شو

یاد طرزالعمل نن د حکومت د رسنیو په مرکز کې د شهیدانو او معلولینو په چارو کې د دولت وزیر ښاغلي لعل الدین آریوبي په حضور کې د دې وزارت د تخنیکي چارو مرستیالې جمیلې نورستاني، د ملي دفاع، کورنیو چارو او مالیې وزارتونو د استازو له لوري د حکومت د رسنیو په مرکز کې لاسلیک شو د شهیدانو او معلولینو د حقوقو د مدیریت لپاره د واحد مرکزي سیستم رامنځته کولو حکم د جلالتماب جمهور رییس له خوا صادر او اړوندو ادارو ته لاربښوونه شوې وه، چې د شهیدانو او معلولینو په چارو کې د دولت وزارت او اړوندي اداري دې له نوي برېښنايي سیستم څخه د ګټې اخیستنې په موخه په ډیټابیس کې درج د ټولو معیارونو او مسولیتونو مشخصونکی طرزالعمل په مشترکه توګه جوړ او تطبیق کړي دا چې د شهیدانو وارثین او معلولیت لرونکو وګړو د حقوقو په ورکړه کې خنډ رامنځته کېده او اړتیا وه چې د اړوندو ادارو تر منځ ښه همغږي رامنځته شي، د دې سیستم پر بنسټ به ټولې اداري په خپلو برخو کې دې قشر ته رسیدنه وکړي د سیستم د رامنځته کېدو اصلي موخه د شهیدانو او معلولینو د حقوقو مدیریت، په چارو کې د روڼتیا تامین او یادو قشرونو ته د پر وخت او چټکو خدمتونو وړاندې کول او شهیدانو او معلولینو په چارو کې د دولت وزارت او اړوندو ادارو له لوري (پاتې برخه ۲ مخ)









## د بایومتریک پروسې په تطبیق کې هر ډول همکارۍ ته ژمن یو

د نقاط حزبي عمومي رییس محمد عمر درانی د شهیدانو او معلولینو په چارو کې د دولت وزیر ښاغلي لعل الدین آریوبي سره وکتل. ښاغلي درانی د بایومتریک سیستم د تطبیق لپاره د یادې اداري او د شهیدانو او معلولینو په چارو کې د دولت وزارت تر منځ د همغږۍ، تخنیکي ملاتړ، معلوماتو د تبادلې او نورو اړینو همکاریو غوښتنه وکړه، وویل چې مشترک کار کولای شي یاده پروسه په ښه ډول عملي او په دې برخه کې د روڼتیا او عوره اصلاحاتو شاهدانو اوسو د شهیدانو او معلولینو په چارو کې د دولت وزیر ښاغلي لعل الدین آریوبي د بایومتریک پروسې په چټک تطبیق د ټینګار تر څنګ وویل، چې یادې اداري سره د معلوماتو د تبادلې او همغږۍ په برخه کې هر ډول همکارۍ ته چمتو دی ښاغلي آریوبي زیاته کړه، چې بایومتریک د فساد په مخنیوي، د مستحقو خلکو په پیژندو، روڼتیا او د دولت د بودیجې په سپما کې اغیزناک نقش لري او په هر حال کې به تطبیق شي



# د څلورو ولایتونو د بانکي سازۍ راپور د وزارت مشرتابه ته وړاندې شو

نن شنبه د (کب میاشتي ۳) د شهیدانو او معلولینو په چارو کي د دولت وزیر ښاغلي لعل الدین آریوبي ته د څلورو لایتونو د بانکي سازۍ راپور وړاندې شو په دي ناسته کي د مالیي وزارت، عزیزي بانک او د شهیدانو او معلولینو په چارو کي د دولت وزارت له لوري څلورو ولایتونو (ننګرهار، لغمان، تخار او بدخشان) ته استول شویو پلاوي په جلا توګه خپل راپور ورکړ د مالیي وزارت پلاوي وویل، چي له بدخشان پرته لغمان، ننګرهار او تخار کي د شهیدانو د خپلو وارثینو او معلولیت لرونکو وګړو له لوري نه یوازي دا چي همکاري نه کېده بلکي خنډونه او ستونزي یي جوړولي. دوی زیاته کړه، چي خپلو اسنادو ستونزي لرلي او د د ۱۳۹۹ کال تلي میاشتي پوري باید په ۲۲ ولایتونو کي ۵۰۰۰۰ زرو تنو ته بانکي کارتونه ورکړل شي تخار ته استول شوي پلاوي وویل، چي ۲۰۰۰ اسناد یي وڅېړل او نږدي ۲۰۰ اسناد قانوني ستونزي لرلي د ننګرهار پلاوي وویل چي د یاد ولایت د شهیدانو او معلولینو چارو آمریت سره له جلسي وروسته یي ۱۳۲ تنه له بانک وروسته د بانکي سازۍ پلاوي ته واستول او په اسنادو کي ستونزي موجودي وي. دوی زیاته کړه، چي ۷۵ سلنه یي اصلاح کړي دي د لغمان پلاوي د بانکي سازۍ په پروسه کي د نه همکارۍ په اړه وویل، چي خیني غیر مستحق خلک د حقوقو اخیستو لپاره کمیسیون تایید کړي دي او په اسنادو کي خیني نوري ستونزي هم موجودي وی ښاغلي لعل الدین آریوبي وویل، چي د بانکي سازۍ پروسه باید بریالي او په ولایاتو کي د همکارۍ په موخه دي د سیمه ییزو ارګانونو خپلواکي اداري ته رسمي مکتوب واستول شي، تر څو ولایتي مسولین د بانکي سازۍ پلاوي سره هر اړخیزه همکاري او د خنډ جوړونکو مخنیوی وکړي. ښاغلي آریوبي زیاته کړه، هغه اسناد چي قانوني ستونزي لري او یا هم تر شک لاندي وي باید په هر اړخیزه توګه وڅېړل شي د ستونزي د حل په صورت کي پاس او کنه ودي ځنډول شي. ښاغلي آریوبي د ننګرهار ولایت د راپور د توحید امر وکړ او وویل چي خپله به یي تعـــــقـــیب کړي. ښـــاغلي آریوبي یادو څلورو لایتونو ته امر وکړ، چي ژر تر ژره دی د بانکي ســـــازۍ چارۍ پیل او پای ته ورســـــوي په دي ناسته کي د وزارت د مالي او حـــسابي چارو رییسی صـــفیي انوري د شهـــیدانو د وارثیـــنو او معـــلولینو په حسابونو کي د تېرو کلونو د پاتي حسابونو په اړه هم بحث وکړ.





# برنامه آگاهی دهی جهت جلوگیری از مرض کرونا با ارایه بسته معلوماتی دایر گردید

به اساس هدایت محترم لعل الدین آریوبی وزیر دولت در امور شهدا و معلولین با اشتراک هیئت رهبری این وزارت برای مراجعین و کارمندان، برنامه آگاهی دهی و چگونگی جلوگیری از مرض کرونا را برگزار نمود در نخست محترم جمیله نورستانی طی سخنان شان از اضرار و شیوع این مرض کشنده و مضحک یاد آوری نموده و از همه همکاران و کارمندان خواستند تا در مقابله با این مرض در قسمت خوراک و نظافت شان توجه جدی نموده و مواظب خود و فامیل شان باشند متعاقباً محترم داکتر فضل‌الله محمدی رییس انستیتوت معلولین با ارایه پریزنتیشن در مورد معنی، واژه کرونا و ریشه آن توضیحات نمود و طبق رهنمودهای گرافیکی، معلومات خود را ارایه نموند و از این که چگونه باید بدانیم که به کرونا گرفتار شده ایم، آثار، علایم و اعراض آن را نیز به حاضرین در تالار پیشکش نمود به گفته آقای محمدی در قسمت خوراک، حفظ الصحه و طرز برخورد و احوال پرسی با شخص متقابل راه های موثر دفع سرایت مرض کرونا می‌باشد مرض موسوم به کرونا در حدود دو ماه قبل از شهر ووهان کشور چین شیوع نمود که سپس به کشورهای همسایه گسترش یافت هیئت رهبری وزارت به اساس هدایت محـــــترم آریوبی به کارمــــــندان وزارت و یک تـــعداد مراجعــــین ماسک نیز تــــوزیع و توصــــیه گردید تا برای جلوگیری ویروس مذکور از آن استفاده نمایند.



## (پاتې برخه) د شهیدانو او معلولینو په چارو کې د دولت وزارت او اړوندو ادارو تر منځ د نوي برېښنایي سیسټم د تطبیق طرزالعمل لاسلیک شو

د شهیدانو وارثین او معلولین یوه واحد سیستم ته پورته کړي نوی برېښنایي سیستم ته د شهیدانو او معلولینو په چارو کی د دولت وزارت ټول پخواني معلومات لیږدول شوي دي . یاد سیستم داسې دیزاین شوی، چې ټولې مرحلې (راجسټرېشن، تثبیت، محاسبه، تادیات او مالي کنټرول) چارې ترسره کوي. د شهیدانو وارثینو او معلولیت لرونکو وګړو ته د بانکي حسابونو پرانیستلو او د دي سیستم له لارې د لا زیاتو اسانتیاوو رامنځته کولو په موخه اړوندو بانکونو د لیستونو استول هم تنظمیږي د نوي برېښنایي سیستم تخنیکي ډله تر ډېرو هڅو وروسته بریالی شوه، چې د شهیدانو وارثینو او معلولیت لرونکو وګړو ته د حقوقو ورکړې سیستم د مالیې وزارت د پیسو ورکړې سیستم سره په انلاین توګه ونښلوي او دا حوالې به له دې وروسته په برېښنایي توګه ولیږل شي. د سیستم پراخېدو سره به د شهیدانو او معلولینو ولایتي آمریتونو ته هم ورسره وصل شي د نوي برېښنایي سیستم د تطبیق طرزالعمل لس پړاوه لري او د جمهوري ریاست عالي مقام په حکم ورته د مرکز او ولایاتو په کچه باصلاحیته کمېټې تاکل شوي دي. په یادو لسو مرحلو کې د شهیدانو د وارثینو او معلولیت لرونکو وګړو د اسناد څېړنه، سمونه، ثبت، سیستم ته لیږدول، د اسنادو تایید او تثبیت، نویو ثبت شویو معلولینو او د شهیدانو وارثینو ته د بانکي حسابونو پرانیستل، د برېښنایي سیستم له لارې د معلولیت او شهادت کارتونو چاپول، برېښنایي آرشیف، د حقوقو محاسبه او مالي چارو څارنه او کنټرول شامل دي د یادې هرې برخې د عملي کولو لپاره په طرزالعمل کې اړینې لارښوونې، وړاندیزونه، د اړوندو ادارو اړتیاوې او د پام وړ ټکي یاد شوي، چې د نوي برېښنایي سیستم په تطبیق کې ضروري دي.





## عده ای از افراد دارای معلولیت جهت سهولت های بیشتر در عرصه اجتماعی، با وزیر دولت در امور شهدا و معلولین دیدار نمودند

این دیدار که در دفتر کاری محترم لعل‌الدین آریوبی وزیر دولت در امور شهدا و معلولین دایر گردیده بود، روی سیستم بایومتریک و توزیع تذکره برقی بخاطر توزیع معاشات، تحصیل و ایجاد غرفه های دست فروشی در مرکز و ولایات برای افراد دارای معلولیت، بحث صورت گرفت یک تن از آنان با ابراز نظر افزوند که؛ وزارت دولت در امور شهدا و معلولین همیشه در بخش های مختلف سهولت های اجتماعی، تحصلی و حرفوی را برای ورثه شهدا و افراد دارای معلولیت فراهم نموده که ما قلباً از این اقدامات شما قدردانی می‌نمائیم و امید بر آن داریم تا جهت شناسایی افراد خیالی در جامعه معلولیت روند سیستم بایومتریک را سرعت بیشتر نمائید و افراد مستحق از توزیع غرفه های دست فروشي و ادامه تحصیل در مرکز و ولایات مستفید گردند متعاقبا محترم لعل‌الدین آریوبی وزیر دولت در امور شهدا و معلولین ضمن قدردانی و تشریف آوری آنان گفتند؛ هیئت رهبری وزارت در تفاهم با سایر ادارات زمینه های تخنیکی، خودکفایی و تحصیلی را برای افراد دارای معلولیت فراهم نموده است که در حال حاضر ورثه شهدا و افراد دارای معلولیت از همه حقوقه حقه شان در این راستا بهرمند می‌شوند.



## معلولیت لرونکو وګړو او د شهیدانو وارثینو ته حرفوي او مسلکي زده کړې ورکول کیږي

د شهیدانو او معلولینو په چارو کې د دولت وزارت او مېرسي کورپ (Mercy Corps) موسسې تر منځ د معلولیت لرونکو وګړو د حرفوي او مسلکي کاري خواک پیاوړتیا او ګمارنې برنامې د تطبیق دوه اړخیز هوکړه لیک لاسلیک شو نن سه شنبه د ( کب میاشتې ۶ نېټه) د شهیدانو او معلولینو په چارو کې د دولت وزارت د تخنیکي چارو مرستیالې جمیلې نورستانۍ او د مېرسي کورپ موسسې د حرفوي او مسلکي زده کړو رییسې ملیزا لکابو د غازي امان الله خان د غونډو په تالار کې د معلولیت لرونکو وګړو د کاري خواک د پیاوړتیا او په مختلفو ادارو کې د دوی د ګمارنې دوه اړخیز هوکړه لیک لاسلیک کړ یاد هوکړه لیک په دریو فصلونو او ۳۲ مادو کې ترتیب او د تطبیق په برخه کې یې د دواړو بنسټونو مسولیتونه مشخص شوي دي د دې هوکړه لیک له مخې به مېرسي کورپ موسسه د شهیدانو او معلولینو په چارو کې د دولت وزارت سره په مرکز او ولایتونو کې د معلولیت لرونکو وګړو او د شهیدانو ورثې ته د تخنکي او مسلکي زده کړو،حرفوي، مسلکي کاري وړتیا لوړونې او په مختلفو ادارو کې د ګمارنې د خدمتونو وړاندې کولو په موخه د همغږۍ رامنځته کول دي، تر څو د دې برنامې له لارې روزل شوي معلولین او د شهیدانو وراثین حرفوي کارونو ته لاسرسی ومومي د هوکړه لیک له لاسلیک وروسته یاده موسسه د شهیدانو او معلولینو په مرکز کې یاد قشر ته د حرفوي زده کړو پروګرام پیلوي او د دریو کلونو په موده کې به ۸۰۰۰ په شرایطو برابرو کسانو ته د شهیدانو د ورثې او معلولینو د یوه حرفوي مرکز په کډون د بازار د ارزونې پروسې له لارې په ۲۲ مرکزونو کې دوی ته زده کړې ورکول کیږي د دې هوکړه لیک اصلي موخه د معلولیت لرونکو وګړو او د





## (پاتې برخه) معلولیت لرونکو وګړو او د شهیدانو وارثینو ته حرفوي او مسلکي زده کړې ورکول کیږي

شهیدانو د ورثې د اقتصادي ستونزو پېژندنه، له منځه وړل او د دوی خان بسیاینه ده. دا برنامه په لومړي پړاو کې په کندهار، هلمند، پروان، کابل، هرات او ننګرهار ولایتونو کې عملي کیږي د برنامې له پیل سره په اول مرحله کې معلولین او شهیدانو د ورثې ۱۸۸ تنه تر پوښښ لاندې نیول کیږي او په دویم پړاو کې به د یاد قشر ۱۵۰ -۲۰۰ تنه د شهیدانو او معلولینو د حرفوي زده کړو په مرکز کې وروزي د شهیدانو او معلولینو په چارو کې د دولت وزارت د دې برنامې د ټولو فعالیتونو او د شهیدانو او معلولینو د مرکز په کچه د کاري پرمختګونو ارزونه کوي او له ارزونې ترلاسه شوې پایلې به د کارونو د لا ښه والي په موخه یادې موسسې سره شریکوي د مېرسي کورپ موسسه یو نړیوال بنسټ دی او له ۱۹۸۶ز کال راهیسې په افغانســـــتان کې د خوانانو د دوامداره ملاتړ، پرمختګ، ګرځنیزو چارو او مسلــکي مهــــارتونو د لوړولو او د معلولیت لرونکو وګړو د شهـــیدانو د کورنـــیو پـــیاوړي کول دي.



## دفتر مطبوعاتی وزارت دولت در امور شهدأ و معلولین

MMD.gov.af MMD.gov.af MMD_gov_af Martyrs_and_disabled_ministry State Ministry for Martyrs & Disabled Affairs